# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنځنۍ (پنجشنبه) د وري ۱ - ۲مه گڼه، پرله پسې (۴۴۱-۴۴۲) مه گڼه، د ۱۴۰۴ل کال د وري ۲۹مه، د ۱۴۴٦هـ.ق. کال د شوال ۱۸ مه او د ۲۰۲۵م.کال د اپرېل ۱۷مه


اطاعت د اولوالامر خدای واجب کړ
حق پرست په اطاعت کې تقصير نه کا

اولوالامر په يقين د اولس امام دی
مجتهد به اختلاف د تفسير نه کا

قنبر علي خان


اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محی الدين هاشمي


## تاريخ شاهي (تاريخ سلاطين افاغنه) تحليلي کتنه او ارزونه (۱) برخه

په دې ليکنه کې به سربېره پر دې چې د (( تاريخ شاهي)) او د هغه د ليکوال لنډه پېژندگلوي وشي. د دې تاريخ د منځپانگې لنډه تحليلي کتنه او ارزونه تر سره شي،چې د هغې په ترڅ کې به د دې اثر بېلا بېل ټولنيز، تاريخي او کلتوري- فرهنگي ارزښتونه بيان شي، ځيني کمزورۍ او نيمگړتياوې به يې هم وښودل شي.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې دا په هندوستان کې د پښتني واکمنيو په اړه لومړنی ليکلې اثر دی چې يو پښتون مؤرخ په فارسي ژبه په (۱۰۲۰هـ.ق) کال کې ليکلی، لومړی ځل په هندوستان کې خپور شوی او دا دی اوس پښتو ته هم را ژباړل شوی دی.

**د څېړنې موخه:** دا ده چې تاريخ شاهي وپېژندل شي او لوستونکي يې له منځپانگې او محتوا څخه خبر شي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ ـ تاريخ شاهي څه ډول تاريخ دی؟
۲ ـ مؤرخ هغه کله او د کومې انگېزې له مخې ليکلی؟
۳ ـ ټولنيز، تاريخي، ادبي او فرهنگي ارزښت يې څه دی؟

**څېړندود:** په دې څېړنه کې له تحليلي او تشريحي ميتود څخه کار اخيستل شوی او په ځينو برخو کې يې انتقادي ميتود هم کارېدلی دی.

**تاريخ شاهي او د هغه مؤرخ**

تاريخ شاهي چې اصلي نوم يې ((سلاطين افاغنه)) دی او په ډېرو باوري تاريخي سرچينو کې په همدغه نوم ياد شوی. يوازې د فارسی متن مرتب او مدون له دې امله چې د لاهور پر قلمي نسخې يې(( تاريخ شاهي)) ليکلی، هغه ((تاريخ شاهي)) (معروف به تاريخ افاغنه) بللی او په دې نوم يې په کلکته کې چاپ او خپور کړی دی؟ ليکوال يې احمد يادگار د ميزا يادگار ناصر زوی دی. د نوموړي د ژوند نور حالات نه دي معلوم، يوازې پر خپل ليکلي تاريخ له مقدمی څخه دومره معلومېږي چې يو پښتون عالم او ليکوال دی. په بنگال کې د پښتنو د وروستي واکمن پاچا داؤد شاه کرلاني، چې د سلمان کرلاني زوی و. د هغه په غوښتنه يې په هند کې د لوديانو او سوريانو د واکمنيو په اړه يو مفصل تاريخ ليکلی دی.

دلته د پښتون واکمن داؤد شاه د پېژندنې په برخه کې همدومره لنډه يادونه بسنه کوي چې نوموړی د سلمان کرلانی زوی، پر بنگال يې (۹۸۰- ۹۸۴ هـ ق) يا له ۱۵۷۲ ميلادی څخه تر ۱۵۷٦ ميلادي کال پورې څلور کاله واکمني درلوده او پر ۹۸۴ هـ ق کال له مغولو سره په مخامخ جگړه کې بندي او بيا وروسته ووژل شو.(۱)

د يادونې وړ ده چې د دغه پښتون واکمن نوم ته يو بل تاريخ هم منسوب دی چې عبدالله نومي پښتون ليکوال ( ۱۰۱۰هـ.ق ژوندی) ليکلی او ((تاريخ داودي)) يې نوملی دی. د دغه تاريخ منځپانگه هم د تاريخ شاهي په څېر د سوريانو او لوديانو د واکمنيو حالات د داؤدشاه تر زمانې (۹۸۴ هـ.ق وژل شوي) پورې بيانوي.

د تاريخ د ليکوال او د هغه پښتون واکمن له لنډې پېژندنې وروسته چې دا تاريخ يې په غوښتنه ليکل شوی. اوس د دغه تاريخ لنډې پېژندنې ته راځو او خبره د ليکوال له خپلو هغو څرگندوونو پيلوو چې د خپل تاريخ په سريزه کې يې وړاندې کړې دي. احمد يادگار ليکي:

((يوه ورځ چې موږ څو کسان د ابو المظفر داؤد شاه په مبارک حضور کې ناست او مجلس مو کاوه. د خبرو پر مهال د حمزه آصف خاني په تاريخ باندې په مجلس کې د ناستو کسانو ترمنځ خبره راغله. په دربار کې ناستو کسانو هر چا د خپل فکر په توان په دې کتاب د تر خپلو شننو او نظرونو څرگندولو وروسته قدرمن

۲مخ


څېړندوی حمايت الله ښاد


## د "پښتونخوا" د شلمې پېړۍ د ادبي ـ فرهنگي بهير شننه (۱) برخه

"پښتونخوا" مجله په جرمني کې خپرېدونکې پښتو خپرونه ده. دا مجله په المان کې د مېشتو فرهنگپالو پښتنو د ادبي او فرهنگي هلو ځلو په پايله کې د شلمې مېلادي پېړۍ په اتمه لسيزه کې له چاپه راووته. دې مجلې د خپلو ټولنيزو او کلتوري موخو تر څنگ ادبي موضوعاتو ته غېږ ورکړه، يوه نيمې سياسي موضوع به يې هم را اخيسته او د المان مېشتو فرهنگي چارو ژوندي او ورځني مسايل به يې هم په خپله سينه کې خوندي کول. »پښتونخوا« سره له دې چې په جرمني کې د پښتنو له خوا د رامنځته شوي د ټولنيز ولسوليز گوند خپرونه وه، خو تر ډېره د پښتو ژبې او ادب په خدمت بوخته وه، دا چې دې مجلې په شلمه مېلادي پېړۍ کې د اجتماعي، فرهنگي او ادبي برخو له مخې د پښتو فرهنگ، ژبې او ادب د خپرېدو او غوړېدو څومره خدمت کړی دی؟ په دې څېړنه کې به په ډاگه شي.

**د څېړنې ډول او ميتود**

د دې څېړنې ډول لړه برخه ساحوي او ډېر کتابتوني دی. د موضوع د تياره اړخونو د روښانولو په منظور په جرمني کې د دې خپرونې او مجلې له مسؤول سره مرکه شوې او د موادو د ترلاسه کولو وروسته يې لاسته راغلي معلومات تحليل او ارزيابي شوي دي. په شلمه مېلادي پېړۍ کې د »پښتونخوا «مجلې بېلابېلې گڼې د تشريحي او تحليلي ميتود له لارې څېړل شوې دي.

**اصلي متن**

"پښتونخوا" په جرمني کې د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند خپرونه ده. نږدې د هرې گڼې پر پښتۍ يې د خپل گوند (د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند) لوگو يا نښان ټومبلی دی، دا يو رپانده توغ دی، سور رنگ لري، په رپېدونکي برخه يې په سپين رنگ توره او قلم انځور شوي دي او له پاسه پرې په انگـــــــــرېزي (PSDP) يعنې د ( Pashtuns Social Democratic Party) د نوم لنډيز کښل شوی دی. ښايي له خپل نښانه يې موخه دا وي، چې ازادي د وينو په زور اخيستل کېږي او بيا وروسته د قلم (علم) او تورې په ځواک ساتل کېږي. د دې گوند تر دغه رپاند توغ او نښان لاندې "پښتونخوا" ليکل شوې او د پښتۍ پر کوزنۍ برخه په ساده پښتو ژبه د گوند نوم او د مجلې د خپراوي نېټه ليکل شوي دي.

د دې مجلې د کتنپلاوي او گوند غړی ښاغلی عبدالنصير ستوری د مجلې پر پښتۍ د گوند د توغ او نښان په اړه داسې راته وايي: د "پښتونخوا" پر پښتۍ د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند توغ (بيرغ) په لومړي سر کې سور رنگ لرلو چې وروسته يې په طلايي رنگ واړولو او د گوند نښه چې د پښتون نيکه خوشحال خان بابا »قلم او توره «ده، په کې له ورايه ځلېږي.).«۱: مرکه)

د مجلې لومړۍ څو گڼې د گوند د سور توغ په نښان راوتلې دي، خو وروسته د ځينو ملحوظاتو له مخې سور رنگ طلايي شوی دی. دوی د توغ رنگ ځکه واړاوه چې د نورو گوندونو له توغ سره يې توپير وشي، دا يې يوازې د گوند توغ دی او د هېواد لپاره يې »تور ـ سور ـ زرغون « ملي بيرغ ټاکلی دی. (۱: مرکه)

د «پښتونخوا» مجله نه يوازې د لوی افغانستان د پښتنو سياسي، تاريخي، اجتماعي، فرهنگي او ادبي موضوعات او مسايل وړاندې کوي، بلکې په المان کې د پښتنو له فرهنگي حالاتو، د هغوی يو له بله سره د غمرازۍ، خواخوږۍ او د دوی د مينې او ورورولۍ له فضاء او هغه ځای پر پښتني چاپېريال هم لږ و ډېر معلومات وړاندې کوي. سره له دې چې دا مجله په المان کې د يوه گوند له لوري رامنځ ته شوې ده، ښايي عام برداشتونــــــــــه او انگېرنې يې يوازې د گوندي ايډيالوژۍ او گوندي موخو د پاللو او خپرولو وسيله او مجله

۲مخ


ليکوال: پروفيسور سيال کاکړ

ژباړن: څېړندوی بشرمل زرغون


## د سعدي د گلستان پښتو ژباړې (۱) برخه

د سعدي گلستان د نثر په برخه کې د پارسي له اوځارو کتابونو څخه شمېرل کېږي، دغه بې جوړې کتاب په (٦٥٦ هـ ق) کې بشپړوالی موندلی، د گلستان په ننگونه(مقابل) کې مولانا عبدالرحمن جامي رحمه الله د (بهارستان) په نامه او په همدې ډول معين الدين د (نگارستان) په نامه کتابونه وليکل؛ مگر ويې نه شو کړای چې د سعدي د گلستان په ننگه کې هومره اوځارتوب پيدا کړي او همدغه دواړه کتابونه اصلاً د گلستان تر پوړۍ(مقام) ببخي و نه رسېدل او دا ځکه چې سعدي د دغه کتاب د منځپانگې نثر د کمال لوړې پوړۍ ته رسولی و او په پارسي ادبياتو کې يې نوی سبک رامنځته کړ چې ډېرې زياتې ادبي گڼې لري او په پارسي کې د سعدي نثر د (سهل الممتنع) له بېلگو نه يوه غوره بېلگه ده.

گلستان هغه کتاب دی چې د سعدي په ژوند يې د ايران پر خاوره عام اوځارتوب وموند، د ايران څه چې د اکثرو سيمو خلک يواځې دا نه چې سعدي خپل گڼي؛ بلکې د ايران د ټولو کتابونو په منځ کې د سعدي گلستان د نصاب په بڼه گډ گڼل شوی دی، د وخت په تېرېدو د دغه ستر شاعر اوځارتوب او د اخلاقو ښوونکي د يوې سيمې په اړوند نه؛ بلکې په ټول افغانستان او د نړۍ نورو هېوادونو ته هم ورسېد، د نړۍ خلکو د سعدي له افکارو او آثارو سره بشپړه بلدتيا پيدا کړه، په ځانگړې توگه د خلکو په منځ کې گلستان ډېر گرانښت وموند.

د سعدي گلستان چې ژبه يې ډېره ساده او روانه ده او لنډې غونډلې(جملې) لري؛ نو په دې کې اخلاقي، ټولنيز، ښوونيز او زده کړيز ورمونه(نصيحتونه) هم شته، په دې اثر کې سعدي له مسجع او لنډو خوږو حکايتونو څخه گټه اخيستې او په ډېره ښه بڼه يې ليکلي چې گران لوستونکي د گلستان لوري ته ډېر ژر راکاږي؛ رښتيا هم د سعدي گلستان له پيله ډېر تاند و او همېشه به همداسې پاتې وي. د سعدي په وينا:

گـــل هــمــين پــنــج روز و شــش بــاشــد
و ايــن "گــلــســتــان" هــمــيــشــه خــوش بــاشــد

له نېکه مرغه د سعدي د گلستان هنگامه د افغانانو هېواد ته راورسېده، پښتو ژبې ډېر ژر د حضرت سعدي له حکيمانه افکارو سره بلد شول چې له دې سره د گلستان ټول مطالب د پښتو په درد خوړل کېدل؛ نو د وخت په تېرېدو د سعدي گلستان په نظامي درسونو کې گډ (شامل) شو، نه يواځې چې د مسجدونو او ديني مدرسو طالبانو دغه اخلاقي کتاب لوسته؛ بلکې پښتنو په عامه کچه د سعدي گلستان لوسته او د گلستان حکايتونه چې له ورمونو او موعظو څخه ډک وو؛ په يادو يادول، سعدي د افغانانو په ټولنه کې دومره گرانښت او منښت وموند چې هر يوه به ويل چې سعدي زموږ له قبيلې څخه دی، رښتيا چې سعدي د پښتنو په سيمو کې د رحمان بابا غوندې اوځارتوب وموند، له پخوا رانيولې ان تر ننه پورې پښتانه حضرت سعدي ته ډېر درناوی کوي او نوم يې په ډېر درنښت يادوي، عام خلک سعدي شېرازی، د شېخ سعدي او يا سعدي صاحب په نامه پېژني او زموږ د ټولنې وگړي د سعدي يادونه په دې ډول هم کوي چې سعدي صاحب ويلي دي او... يا شېخ سعدي ويلي او... .

په همدې اساس د سعدي گلستان په خوږې پارسي ژبه و او افغانانو اصلاً نه شول کولای چې له گلستانه په ښه توگه گټه واخلي؛ نو د هغې زمانې پوهانو او عالمانو دغه ستونزه وپېيله چې د سعدي گلستان بايد په پښتو وژباړل شي چې د سعدي د گلستان لوستو پر وخت د خلکو شکونه په ښه ترا اوار شي، کومو پوهو شاعرانو او عالمانو چې دغه ياد کتاب په خوږه پښتو ژباړلی او تر موږ رارسېدلی؛ دلې يې لنډ درپېژنو:

**(۱) گلدسته**

تر ټولو ړومبی چې د سعدي گلستان يې په پښتو ژباړلی؛ هغه عبدالقادرخان خټک، د پښتو ژبې د اوځار شاعر خوشحال خان خټک زوی او د شهبازخان خټک لمسی دی، د لوی څېړونکي ارواښاد علامه حبيبي په وينا

۳مخ


محمد ياسين اميني


## د حمزه بابا په اشعارو کې تلميح (۱) برخه

په دې مقاله کې د حمزه بابا په اشعارو کې د تلميحاتو (ادبي اشارو) د کارونې تحليل او څېړنه شوې ده، دا څېړنه ښيي چې حمزه بابا د مذهبي (قرآن، احاديث)، تاريخي (اسلامي تاريخ، پښتنو قبايلي جگړې)او فرهنگي (پښتونوالی، سمبوليک عناصر) تلميحاتو په مرسته خپل عرفاني او فلسفي اندونه په هنري بڼه بيان کړي دي. د دې تلميحاتو په مرسته، هغه نه يوازې د خپلو شعرونو ژورتيا زياته کړې، بلکې د پښتو ادبياتو او اسلامي عرفان ترمنځ يې يوه څرگنده اړيکه هم رامنځته کړې ده، د څېړنې پايلې ښيي چې د حمزه بابا تلميحات د هغه د شخصي تجربو او د ټولنې فرهنگي ميراث يوه انځوريزه بېلگه ده.

**سريزه**

تلميح د ادبياتو يو کلاسيک معنوي صنعت دی چې د شاعر يا ليکوال په ذهن کې د فرهنگي، مذهبي او تاريخي پېښو په اړه پوهه څرگندوي. په پښتو ادبياتو کې په ځانگړې توگه د حمزه بابا (۱۹۰۷-۱۹۹۴) په شاعرۍ کې دا صنعت د هغه د هنري ژورتيا اصلي سرچينه ده. حمزه بابا چې د پښتو تصوف يو مخکښ شاعر بلل کېږي، د خپلو شعرونو په بېلابېلو بېلگو کې د قرآن کريم، اسلامي تاريخ او د پښتنو کلتور ته اشاره کوي. د هغه د شعرونو دا ځانگړتيا نه يوازې د هغه علمي او فرهنگي پېژندگلوې ښکاره کوي، بلکې د هغه هنري مهارت او د معنا په اړه د ژورې پوهې بېلگه هم ده. د دې مقالې په مرسته، ما هڅه کړې چې د حمزه بابا په اشعارو کې د تلميحاتو د کارونې اړوندې بېلابېلې بڼې او د هغوی ادبي او معنوي ارزښت په ډاگه کړم.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

حمزه بابا يو فلسفي، عرفاني، او رمزي شاعر و، چې د تلميح له لارې يې خپل فکرونه ژور او مؤثر کړې دي. د دې څېړنې له لارې، موږ کولی شو چې د هغه د شعرونو پټې معناوې، اشارات، او تاريخي پس منظرونه وپېژنو.

تلميح د معنوي صنايعو له مهمو برخو څخه ده، چې د شعر ښکلا، اغېزمنتيا، او ژوروالي ته وده ورکوي. دا څېړنه به دا روښانه کړي چې حمزه بابا د تلميح څخه څنگه گټه اخستې او د پښتو شعر د بډاينې لپاره يې څه اغېز درلود.

حمزه بابا د عرفان او تصوف يو ستر شاعر دی. د هغه په شعرونو کې گڼ تلميحات اسلامي تصوف، شرقي فلسفې او افلاطوني نظرياتو ته اشارې لري. د دې څېړنې له لارې موږ کولی شو د هغه د افکارو ريښې پيدا کړو او د هغه پيغام ته لا ښه ورسو.

نن سبا د حمزه بابا شاعري د ادبياتو مينه‌والو ته د الهام سرچينه ده، خو ځينې لوستونکي د هغه اشارات، استعارې او تلميحات نه شي درک کولی. دا څېړنه به د حمزه بابا د شاعرۍ د تفهيم لپاره يوه اسانه لار هواره کړي او لوستونکو ته به د هغه د شعرونو معنا روښانه کړي.

**د څېړنې پوښتنه**

حمزه بابا د خپلو شعرونو په جوړښت کې تلميح معنوي صنعت څنگه کارولی او دا تلميحات د هغه د شاعرۍ د معنا او ښکلا لپاره څه رول لري؟

**فرعي پوښتنې**

د حمزه بابا د تلميحاتو هنري او معنوي ارزښت څه دی؟

حمزه بابا د تلميح معنوي صنعت کومې بڼې کارولې دي؟

حمزه بابا د تلميح لپاره کومې سرچينې کارولي دي؟

**د څېړنې موخې**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د حمزه بابا په شاعرۍ کې د تلميح ادبي ارزښت، فکري ژورتيا، او هنري ښکلا وڅېړل شي، حمزه بابا يو فلسفي، عارفانه او هنري

۳مخ

**سرلیکنه**

## زېرى او نوى کال

د ۱۴۰۴ل کال له پیلېدو سره د زېري ټولو قلمي همکارانو او لوستونکو ته د نوي کال د مبارکۍ تر څنګ هیله لرو چې په دې کال کې به په ټول هېواد کې د علم، ادب، فرهنګ، تخنیک او نورو برخو کې تر بل هر وخت ډېرې لاسته راوړنې ولرو.

د زېري د اتمې لسیزې پر اتمې پوړۍ پښه ایښودل په ټوله معنا د نېکمرغۍ زېرى دى. د عمر په لحاظ که هر څو زېرى د ځوانۍ له پړاوه را تېر دى ولې د زېري جذبو ته په کتو مو بې اختیاره دا بیت په فکر کې چورلک خوري، غزوني او انګازې کوي چې:

څه وشو په عمر که سپین ږیرى شو
لا خو حوصلې د رسا ځوانۍ دي
(سید رسول رسا)

په دې هیله چې څو د زېري عمر ډېرېږي، هومره یې ځوان او تاند وساتو، لمن یې هر وخت له ډول ډول زېرو ډکه ولرو، لکه د یو نوي غوړېدلي ګلاب په څېر یې خوشبويي پر چاپېریال کې خوره محسوس کړو او هیڅکله یې مړاوي کېدو ته پرې نه ږدو، تر څو خپلو هېوادوالو ته د علم، ادب، فرهنګ او په نورو برخو کې لا خدمت وکړي.

د زېري لوستونکو او قلموالو ته باید ووایو، د زېري اداره هوډ لري چې د روان (۱۴۰۴ل) کال په پای کې د داستاني ادبیاتو اړوند د لیکل شویو څېړنیزو مقالو ټــــولګه د زېري جریدې د کالګڼې په توګه چاپ کړي. ستاسو څخه هیله کوو چې د زېري د کالګڼې لپاره د داستاني ادبیاتو اړوند خپلې علمي څېړنیزې مقالې د زېري ادارې ته په واک کې ورکړئ تر څو یې په یاده ټولګه کې شاملې کړو.

په پای کې له تاسو ټولو هیله کوو چې د زېري د لا ځوان ساتلو لپاره له زېري سره خپله همېشنۍ مینه او قلمي همکاري وپالئ.

درنښت

## تاریخ شاهی (تاریخ سلاطین افاغنه)...

مشر ښاغلي داؤد شاه ماته مخ راواړوه او وې وویل : منهاج الدین جوزجاني یو تاریخ ((طبقات ناصري)) د سلطان ناصرالدین په نوم لیکلى..... وروسته ضیابرني د سلطان غیاث الدین بلبن له پاچاهۍنه نیولې دفیروزشاه تر مهاله تاریخ فیروزشاهي په نوم تاریخ لیکلى ...خو بل مؤرخ له امانت خان څخه پرته د ډهلي پر تخت ناست د پښتنو واکمنانو تاریخ، چې د پوپنا کېدو او هیرېدلو نه وژغورل شي او په امانت ډول د تاریخ پاڼو ته وسپارل شي، نه دی لیکلى. دابه څومره غوره او دېام وړکار وي که څوک داسې ښستېز کار ته ملا وتړي ...داچې زه د دې درګاه د ډېرو پخوانیو خدمتګارانو له ډلې څخه یم او د دې درنې کورنۍ له نیکیو ډېر پوروړی یم، د واکمن غوښتنې ته مې د رد ځواب ور نه کړاى شو او دې درونډ بار ته مې اوږه ورکړه. په ډېر زیار او کوښښ سره په دې وتوانیدم چې په هند کې د شېرو پښتنو واکمنانو پېښې او واقعات د کتاب په منځپانګه کې ځاى کړم...)) (۲)

د تاریخ شاهي د فارسي متن مدون او مصحح مرحوم محمد هدایت حسین، چې دغه اثر یې لومړی ځل په ۱۹۳۹ میلادي کال دهندوستان په کلکته کې چاپ او خپور کړی، په خپله سریزه کې ، چې په انګریزۍ ژبه یې لیکلې ، د کتاب په پای کې خپره شوې او بیا سید نذیر نیازي د ژباړې پر مهال اردو ژبې ته را ژباړلې ده، د دغه کتاب د پېژندنې په اړه ډېر ګټور معلومات وړاندې کړي، چې دلته یې ځینې برخې راخلو:

مرحوم هدایت حسین لیکي: ((په عام ډول داکتاب ( تاریخ شاهي یا تاریخ سلاطین افاغنه)په نوم مشهور دی. خو زما په نظر ورته(( تاریخ شاهي ))ویل ضرور دي. دا تاریخ له دې امله هم مهم دی چې په دې کې یې دبابر دحکومت د دووکلونو او په هندوستان کې دافغان واکمنانو حالات مفصل بیان کړي، چې په هغو کې سلطان بهلول لودي،سکندر لودي، ابراهیم بن سکندرشاه، شیرشاه سوري، اسلام شاه،فیروزشاه(چې دوه میاشتې یې حکومت کړی)عادل شاه، ابراهیم سوري ا ودسکندرشاه حالات راغلي او په سریزه کې یې د بابر،همایون او په ډهلی کې داکبر واک ته رسیدود ځینوحالاتو یادونې هم شوې دي . سره له دی چې د دې وروستیو دریو مغلي واکمنانود حالاتو بیانول د مصنف بنسټېزه موخه او هدف نه دی،خو په ضمني ډول یې دهغو یادونه هم داړتیا له مخې کړې ده...)) (۳)

مرحوم دوست محمد کامل مومند یې دتاریخ مرصع په سریزه کې د پیژندنې په اړه لیکلي دي:

((داحمد یادګار فارسي کتاب دی ، دسلطان بهلول له عهده شروع کېږي او دهیموترشکسته، ګرفتارۍ او قتله پورې تاریخ بیانوي. د بیان له رویه هغه دا تاریخ د داؤد شاه په وینا لیکلی دی، د ایلیټ اینډ ډاوسن د سلسلې فاضل ایډیټر مدلل دقیاس له رویه دکتاب تالیف زمانه ۱۰۲۰ هـ.ق (عهدجهانګیري ) ده. نوله مخزن افغاني یو کال یا څه موده ترې زیاته آګاهولیکلی شوی و، ډاؤسن لیکلی چې داؤد شاه په ۹۸۴ هـ.ق (۱۵۷٦یا ۱۵۷۷م) کې مړ یا له مغلو سره په جنګ کې له ماتې وروسته په شهادت رسیدلی و، نو ګویا احمد یادګار هم خپل کتاب د هغه له مرګ نه ډېره موده پس مکمل کړی و.)) (۴)

د یادونې وړ ده چې د احمد یادګار خپل اثر ((تاریخ شاهی یا تاریخ سلاطین افاغنه)) په ۱۰۲۰هـ.ق کال شاوخوا په دري ژبه لیکل شوی او په ۱۳۵۸هـ.ق کال د هندوستان په کلکته کې د محمد هدایت حسین په سریزه،حاشیو او چاپ زیار خپور شوی. له همدغه متن څخه سید نذیر نیازي په ۱۹۸۵م کال اردو ته ژباړلی او په لاهور کې اردو ساینس بورډ چاپ کړی دی. ښاغلي محمدالله ساپي له اردو متن څخه پښتو ته راژباړلی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو بین المللی مرکز په ۱۴۰۲ لمریز کال کې خپور کړی دی، ما د دغه اثر پیژندنه او تحلیلي کتنه د همدې پښتو متن له مخې ترسره کړې ده.

**د تاریخ سلاطین افاغنه د منځپانګې تحلیلي کتنه**

د دې اثر د منځپانګې د ماهیت او اهمیت د څرګندولو په ترڅ کې لازمه ده چې لومړی یې دلته دځینو ځانګړنو، لکه : معنوي، علمي، ټولنیزو، سیاسي، ادبي، ژبنیو، ارزښتونو جلا جلا یادونه او بیا یې ځینو خامیو ته انتقادي کتنه وکړو، چې په دې وسیله یې د معنوي ارزښتونو تر څنګ نیمګړتیاوې او کمزورۍ هم لږ و ډېر درنو لوستونکو ته څرګندې شي.

**تاریخي ټولنیز ارزښت او اهمیت**

په دې برخه کې داثر ارزښت تر ډېره دهغه دتاریخیت او پیښبود ټولنیز، سیاسي اهمیت او ماهیت له مخې څرګندیدای شي. له دې اړخه د احمد یادګار تاریخ په موضوعي لحاظ په هندوستان کې د دوو سترو پښتني واکمنو کورنیو (لودیانو او سوریانو) واک ته د رسیدو او د هغو د حکومتونو څرنګوالي یا د واکمنانو ټولنیز او سیاسي نظامي چار چلندونو، د واک او اقتدار د پیاوړتیا او پرمختیا او بیا خپلمنځي اختلافاتو، خپلسریو په نتیجه کې د ړنګیدو، رانسکوریدو او له منځه تللو پیښې او حالات بیانوي، د یادونې وړ ده چې دا په موضوعي لحاظ په خپل ذات کې لومړنی او وروستی تاریخ نه دی بلکې له دې مخکې او وروسته ځینې نور تاریخونه یا تاریخ ډوله آثار شته چې هغه خپله پښتنو او یا نورو لیکلي او موږ د دغو واکمنو لړیو دحالاتو له بهیره په ورته لږ یا ډېر توپیري ښه خبروي چې دلته د بیلګې په توګه د عباس سرواني تاریخ شیرشاهي، د نعمت الله هروي مخزن افغاني یا تاریخ خانجهان لودي، د عبدالله تاریخ داؤدي، دخواجه ملیزي تاریخ افاغنه یا تاریخ خان کجو، د شیخ رزق الله واقعات مشتاقي، د یحیی ابن احمد تاریخ مبارک شاهي، د خانجهان لودي مراةالافاغنه د افضل خان خټک تاریخ مرصع او داسې نور یادولی شو.(۵)

لکه څرنګه چې دغه پورته یاد آثار د دغـو واکمـنو دورو دحالاتو او پیښو بیان په برخه کې یو شان او تر څنګ یـې ځینې ځانګړي ارزښتونه لري، دغـسې د احـمد یـادګار تاریخ سلاطین افاغنه هم لـه ځـینـو داسـې ارزښـتـونـو برخمن دي چې هغه په نورو تاریخونو کې ډېر لږ یا په مناسب تفصیل نه دي راغلي، په ځانګړي تـوګـه د لـودي واکمنی د رانسکوریدو او بابر واک ته رسیدو او د واکمنی لومړیو کلونو پیښې، شیرشاه سوري د ژونـد د ورسـتـیـو وختونو حالات، د همایون دویم ځل واک ته د رسیـدو او جلال الدین اکبر د واکمنی د لومړیو کلونو پیښې پـه بـل تاریخ کې په دغسې وضاحـت او تـفصـیـل سره نـه دي راغلي. مؤرخ د تاریخ لیکنې د بنسټېزو اصولو له مخـې د پیښو علتونه او د هغو لاملونو په ډېر ښه شان بیان کـړي دي، یادګار له یوې خوا واک ته د رسیدو لپاره د لودیـانـو، سوریانو او نورو پښتني قبیلو مشرانو سرښندنې، مېړانې او د دغو واکمنانو عادلانه چارچلندونه بیانوي نو تر څنګ یې هغه دوه مهم عوامل هم په زغرده ښودلي چې دغـه واکمنی یې پای ته ورسولې. لیکوال دغه عوامل لـه یـوې خوا هغه پښتانه قومي مشران بولي چې ځان ته یې خپـل واک او اقتدار غوښته او له بلې خوا د دغه واکمنو کورنیو (لودیانو او سوریانو) د ځینو واکمنانو ځان غوښـتـنـې او مطلق العنانی فکرونه او خپل منځي کورني او قـبیـلـوي اختلافات د دې سبب ګڼي چې هـنـد کـې یـې د پښـتـنـو سلطنت او واکمني پای ته ورسوله، دغه او داسې نور ډېر مسایل په دې تاریخ کې په وضاحت سره بیان شوي دي

**(پاتې برخه په بله ګڼه کې)**

## د "پښتونخوا" د شلمې پېړۍ ...

وګنې، خو له خپرو شوو موضوعاتو او منځپانګو یې جوتېږي چې په ټولیز ډول د پښتو ژبې او ادب د ودې، پراختیا او پرمختیا لپاره تأسیس شوې ده.

"پښتونخوا" په جرمني کې د هڅاندو پښتنو په هلو ځلو او پښتني مینه راووته، دا مجله یوازې او یوازې په پښتو غږېږي، خو په یوه نیمه ګڼه کې یې الماني او انګرېزي لیکنې هم پر پښتو او پښتنو راڅرخي. د نړۍ د پښتنو او په تېره د لوی افغانستان پر حالاتو ژبه چلوي. د دوی سیاسي، تاریخي، فرهنګي، ادبي او ان اقتصادي حالت نه یوازې په خپله سینه کې خوندي ساتي، بلکې د بیدارۍ او حللارۍ چارې هم وړاندې کوي.

"پښتونخوا" پراخه تڼده لري، په ورین تندي هر څوک ورغاړې وځي، د دې مجلې هراړخیزوالي او د موضوعاتو پراخوالي د هر ډول طبعې خاوند ته د خپل زړه ور پرانیستی پرېښی، په دې چې سیاسیون په کې د خپل طبیعت په سیاسي مسایلو تازه ساتلی شي. فرهنګي او ادبي اشخاص یې په ادبي او اجتماعي موضوعاتو خپله هنري تنده خړوبوي او د تاریخ مینه وال په کې د خپل شوق و ذوق او لېوالتیا تنده د یوې نیمې تاریخي پېښې او حالت په لوستو ماتوي. لنډه دا، په دې مجلې کې تر وسې وسې په پښتو ژبه د پښتنو په ژوند و ژواک پورې تړلي او اړین مسایل او موضوعات منعکس شوي دي.

"پښتونخوا" مجله د المان مېشتو پښتنو په فرهنګي هلو ځلو خپرېده، دا مجله د شلمې زېږدیزې پېړۍ په اتمه لسیزه کې له جرمني راووته او د شلمې مېلادي پېړۍ له فناکېدو سره یې په لسګونه مجلې د فرهنګي او ادبي تاریخ په زېرمه کې خوندي کړې دي. له ښه مرغه د دې مجلې ادبي ـ فرهنګ یون اوسمهال هم روان دی، خو په دې څېړنه کې یوازې او یوازې په شلمه زېږدیزه پېړۍ کې د "پښتونخوا" مجلې پر خپرو شوو ګڼو بحث شوی دی. د دې مجلې په بېلابېلو ګڼو کې د خپاره شوو موضوعاتو او د مجلې پر محتویاتو د غوره پوهېدنې لپاره د "پښتونخوا" د پیلنۍ او لومړۍ ګڼې پېژندنې ته تمېږو او پښتو فرهنګ او ادب ته د دې مجلې د ادبي او فرهنګي خدمتونو د زبات او اثبات لپاره به په پر له پسې ډول د شلمې مېلادي پېړۍ ټولې ګڼې جولیزې او منځپانګیزې لنډې معرفي کړو.

**"پښتونخوا" ـ لومړۍ ګڼه**

د "پښتونخوا" مجلې لومړۍ ګڼه د ښاغلي ارواښاد دکتور کبیر ستوري په مدیریت د ۱۹۸۷ز.کال په اپرېل کې له چاپه راووته. دا ګڼه په سپین کاغذ، په A5 کچ او سل مخونو کې په پښتو، جرمني او انګرېزي ژبو چاپ او خپره شوې ده. پښتو برخه یې ۵۲ مخونه دي. ۱۷مخه جرمني او ۲۱مخونه انګرېزي لري. (۱: مرکه)

د "پښتونخوا" مجلې معمولاً په ټولو ګڼو کې زمه وار او بنسټګر دوکتور کبیر ستورى لیکل شوی دی، علیخان محسود، هدایت بنګښ، حبیب ستومان، خان ساپی او شاجهان یې د خپرونې د جرګې او کتنپلاوي غړي ښودل شوي دي. (پښتونخوا، لومړۍ ګڼه، د ځانګړنې مخ). د خپرونې د جرګې او کتنپلاوي دا نوملړ تر ډېره د "پښتونخوا" په ګڼو کې په دغه ډول راغلی دی، خو په ځینو ګڼو کې د کتنپلاوي او جرګې په ډله کې د ځینو نورو لیکوالانو نومونه هم ورزیات شوي دي، مثلاً په څلورمې ګڼې کې د کتنپلاوي په برخه کې »ګل غوټۍ کونړۍ «هم شامل شوي ده، په وروستیو ګڼو کې عزیز سرشار او نصیر ستوري هم د دې مجلې د موضوعاتو په سمون کې ونډه اخیستې ده. د "پښتونخوا" مجلې بېلابېلې ګڼې تر ننه د جرګې او کتنپلاوي د همدې ډله لیکوالو په مسؤلیت چاپ او خپرې شوې دي.

د "پښتونخوا" لومړۍ او ان ټولې ګڼې له ما سره نشته، یوازې د هرې ګڼې د پیل څو مخونو عکسونه یې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند غړي ښاغلي نصیرستوري د واټساپ پر لیکه د "پښتونخوا" د هرې ګڼې له لنډې پېژندنې سره راستولي دي. نوموړي د "پښتونخوا" د لومړۍ ګڼې ټول مخونه سل ښوولي دي، په داسې حال کې د پښتو، جرمني او انګرېزي ژبو د مخونو شمېر یې ټولټال نوي مخونه کېږي، ښايي دا نور مخونه یې په نورو موضوعاتو ښکلي شوي وي، یا به یې دا نور مخونه د مجلې پېژندنې، د موضوعاتو نوملړ او نورو زیاتو ځانګړنو نیولي وي.

په دې ګڼه کې د المان مېشتو پښتنو د یو لړ فعالیتونو او ګزارشونو ورهاخوا ځینې تاریخي، اجتماعي او ادبي مسایل هم بیان شوي دي. د افغانستان پر سیاست او حالاتو هم خبرې لري، د دې ټولو موضوعاتو د زبات او اثبات لپاره به د دې مجلې د موضوعاتو نوملړ رااخیستل بې ګټې نه وي، د مجلې په لومړۍ ګڼه کې دا سرلیکونه راغلي دي:

د افغانستان نوې وده، په لوېدیځ جرمني کې د خان لالا محمد افضل خان د سفر لنډ ریوټ، د خبریالانو تر وړاندې د خان لالا محمدافضل خان وینا، د فرانکفورت په یوه غونډه کې د افضل خان وینا، د خدای بخښلي افضل بنګښ په یاد، نوې زړې، شاعر ته، د سور پوښانو دود او د لیلا وزر. (۲: د لیکلړ مخ)

"پښتونخوا" د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د ګوندي فعالیتونو خپرونه ده، تر ډېره په کې د دوی سیاسي ایډیالوژیک موضوعات نشر شوي، خو پر دغو سیاسي مسأیلو سربېره ادبي او اجتماعي لیکنې هم په کې خپرې شوې دي. تر ټولو غوره یې دا ده چې د خپلو اهدافو د څرګندولو او خپراوي لپاره یې پښتو ژبه ټاکلې ده، دا موخې یې که هر څومره سیاسي یا بل ډول وي، خو په پښتو وړاندې کېږي. دا مجله چې الماني کې یې بنسټ اېښودل شوی او هلته خپرېږي، د پښتو تر څنګ الماني او انګرېزي لیکنې هم لري، خو د پښتو برخه یې غوښنه ده.

**"پښتونخوا" ـ دویمه ګڼه**

د "پښتونخوا" دویمه ګڼه د ۱۹۸۸ز. کال په اپرېل کې چاپ شوې ده، چې ۳۸ مخونه لري. دویمه ګڼه زباتوي چې »پښتونخوا «کلنۍ مجله ده او په کال کې به یوه ګڼه چاپېدله. دا ګڼه د باچاخان د مبارزې په اړه د اروښاد ډاکتر کبیر ستوري په دې سرلیک »باچاخان د پښتنو د قامي آزادۍ بخښونکي غورځنګ پلار «پیلېږي. د موضوعاتو په لیکلړ کې یې د لیکوالو نومونه نشته دي، چې د چا چا لیکنې په دې ګڼې کې خپرې شوې دي، خو تر ډېره د باچاخان د نظریې او لارې اړوند موضوعات په کې راغلي دي، په دې ګڼې کې دا موضوعات راغلي دي:

عدم تشدد یا پاسیفیزم او ملي ازادۍ غوښتونکي غورځنګونه، د پښتو ټولنه او باچاخان، کابل راډیو او د هغې د خپرونو اغېزو ته یوه لنډه کتنه، مطبوعاتي کنفرانس، بلنه.(۲: د لیکلړ مخ)

**"پښتونخوا" ـ درېیمه ګڼه**

دا ګڼه په ۳۹ مخونو کې په دویمې پسې نږدې درې میاشتې وروسته د ۱۹۸۸ز. کال په اګست کې راوتې ده. یعنې په دې کال کې دوې ګڼې چاپ شوې دي. د "پښتونخوا" درېیمه ګڼه هم په بېلابېلو موضوعاتو ښکلې شوې ده، د دې ګڼې منځپانګه دا ارزښتناک مسایل رانغاړي:

پښتو ټولنه او باچاخان، نوې زړې، خپل عمل، ځوان ته، د جرمن د ټولنیزې اولسولۍ ـ ۱۲۵مه کالیزه، د حجرې مرکه، ربښتیا ربښتیا دي، د ژوند سا، د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند د مشر ډاکتر کبیر ستوري سره مرکه، سیل. .(۳: د لیکلړ مخ)

**"پښتونخوا" ـ څلورمه ګڼه**

د "پښتونخوا" څلورمه ګڼه د ۱۹۸۹ز. کال په جنورۍ کې چاپ شوې ده چې ټولټال ۳۵ مخونه لري. د دې مجلې منځپانګه سیاسي، تاریخي، ادبي او اجتماعي مسایل او موضوعات لري. دلته به مو په دې لیکنو سترګې خوږې شي:

د افغانستان ربړه او د هغې د حل لارې چارې، د باچاخان ژوند ته یو ژور نظر، د تاریخ ننګیالي، د کُنر میرزمان خان او امان الله خان، غني خان او خټک د ځان په هنداره کښې، زمونږ ټولنه د پیښ لیک په اوږدو کښې. .(۴: د لیکلړ مخ)

**"پښتونخوا" ـ پنځمه ګڼه**

"پښتونخوا" په لومړیو دوه کلونو کې کلنۍ خپره شوې، یعنې په کال کې یو ځل راوتې ده، خو راوروسته ان درې میاشتې پس هم چاپ شوې او په کال کې دوه یا درې وارې د چاپ په ګاڼه سینګار او سمبال شوې ده. پنځمه ګڼه په ۳۱ مخونو کې د ۱۹۸۹ز. کال په اپرېل کې خپره شوې ده، په دې کې هم پر ادبي او ژبنیو موضوعاتو سربېره اجتماعي، جغرافیایي او تاریخي مسایل هم رانغښتل شوي دي، په دې مجلې کې لاندې موضوعات مخ ته راځي:

په زور کلي نه کېږي، احمدشاه بابا او پښتونخوا، ښځه او پخوانۍ ټولنه، نوې زړې، خوښه، فاتح میوند ښاغلی محمد ایوب خان غازي، ژبه او فکر، د ستا وطن یم پښتونخوا یم، پښتانه او د باچاخان ارمانونه او د ادب هنداره. .(۵: د لیکلړ مخ)

**"پښتونخوا" ـ شپږمه ګڼه**

د "پښتونخوا" دا ګڼه د ۱۹۸۹ز. کال په نومبر کې چاپ شوې ده. ۲۷ مخونه او سپین کاغذ لري. د دې ګڼې په سینه کې تر ډېره ادبي او اجتماعي موضوعات ځای شوي دي، خو لږ و ډېر تاریخي او سیاسي مسایل هم لري. په دې ګڼه کې لاندې موضوعات لوستلای شو:

د افغانستان حالات، پښتو او پښتونولي مکمله ظابطه حیات ده، غمرازي، لنډۍ او روانه ګړیدنه، خواخوږي، نوې زړې، پښتون څوک دی؟، د هېواد نامتو څېرې، ګلونه تکلونه، د لرغونتوب ښکلوونکي او مستي. .(٦: د لیکلړ مخ)

**"پښتونخوا" ـ اوومه ګڼه**

د "پښتونخوا" اوومه ګڼه په سپین کاغذ او ۳۱ مخونو کې د ۱۹۹۰ز. کال په اګست کې راووته. دا ګڼه هم په ادبي موضوعاتو خړوب شوې ده، د لیکلړ سرلیکونه ثابتوي چې د پښتو د هنري نثر ټوټې په کې هم راغلې دي. له دې ورهاخوا پر ټولنیزو مسایلو هم لیکنې لري.

د دې ګڼې ډېر او منځپانګه په لاندې موضوعاتو ښایسته شوې ده:

دا اوسنۍ جګړه د چا او د څه لپاره، نوې زړې، د افغانستان او جرمني یعنې الماني تعلقات او پېژندګلوي، هډونه (معمی ګانې)، توري لرې، جنت، ښې بدې، د کانې کربښې، پښتونخوا ستا اتلان او د طبیعت قانون. .(۷: د لیکلړ مخ)

**"پښتونخوا" ـ اتمه ګڼه**

له اوومې ګڼې نږدې درې میاشتې وروسته دا ګڼه په ۳۵ مخونو کې د ۱۹۹۰ز. کال په ډسمبر کې چاپ شوې ده. د دې مجلې د چاپېدو او خپرېدو نېټې تر دې ځایه په ډاګه کوي چې په کال کې هرومرو خپره شوې، خو ځینې وخت د دوو ګڼو د خپرېدو واټن درې میاشتنۍ شوی هم دی.

اتمه ګڼه له ادبي او اجتماعي موضوعاتو مالامال ده، د پښتو ژبې او ادب مینه‌والو ته دا موضوعات په خپله ځولۍ کې وړاندې کوي:

د ټولنیز اولسولۍ پسرلی، نوې زړې، خان لالا محمد افضل خان نه یوه پوښتنه، باچاخان په حیث د یو انسان خدایي خدمتګار او د پښتنو رهبر، د ادب کاروان، فولکلوري کیسه، ډولۍ معماګانې، ټوکې ټاکلې، پښتونه ځان وپېژنه، د خوشحال خان بابا سره په تیراه کښ مرکه. .(۸: د لیکلړ مخ)

**(پاتې برخه بله ګڼه)**

## د سعدي د ګلستان پښتو ...

عبدالقادرخان خټک په (۱۰٦۲ هـ ق) او د اروابښاد عظیم شاه خیال بخاري د معلوماتو له مخې په (۱۰٦۳ هـ ق) په اکوړه خټک کې زېږېدلی دی.
عبدالقادرخان خټک په یوې علمي او ادبي کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانېستې، پلار یې ډېر لوی شاعر و، پخپله عبدالقادرخان نه یواځې چې لوی شاعر و؛ بلکې لیکوال او د پښتو ژبې بریالی ژباړن شمېرل کېږي چې په همدې اساس د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې راغلي چې نوموړي په ړومبي ځل په (۱۱۲٦ هـ ق) کې د سعدي ګلستان د (ګلدستې) په نامه په پښتو وژباړه.
که څه هم د سعدي د ګلستان ژباړې د اروپا او اسیا په بېلابېلو ژبو کې شوې؛ خو بیا هم دغه ستره نېکمرغي د پښتو ژبې په بڼګر کې د ړومبي ځل لپاره د عبدالقادرخان خټک په برخه شوې او د سعدي ګلستان یې د ځینو خپلوانو په غوښتنه په پښتو ژباړلی دی، په خپله عبدالقادرخان خټک د ګلستان په اخلاقي، ښوونیز او ټولنیز اهمیت ښه پوهېده چې په همدې ترتیب یې د ګلستان نثر په پښتو نثر او نظم یې په پښتو نظم ژباړلی دی چې پښتانه له یادې بډای زېرمې نه ښه ګټه واخلي.
اروابښاد خیال بخاري په خپلو عالمانه خبرو (د سر خبرې) کې د عبدالقادر خان خټک په حواله په پښتو لیکي چې:
((...دوستانو راځخه ګلستان کتاب لوست، ډېر ډېر به یې راته ویل چې د عربي، د پارسي کتابونه ډېر دي؛ اما په پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نشته، ستا قوت د تصنیف د ترجمې البته شته، که تصدیع په ځان قبوله کړې؛ ګلستان کتاب چې مطبوع او مرغوب د خاصو، عامو دی، هم یې لوی سړی ګوري، نصیحت ترې اخلي، هم یې هلکان لولي، برکت ترې اخلي، اکثر خلک یې متن ولولي، دویم ځل یې معنا که په پښتو ژبه ترجمه شي؛ پښتو ته به اساني ډېره وشي، فایده به یې لویو، هلکو ته ورسي، زما هم بل شغل در پیش نه و، فارغ ناست وم...)).
عبدالقادرخان خټک یو زبده عالم او غوره شاعر و، نوموړی په عربي او پارسي ژبو ډېر برلاسی و او له تصنیف او تألیف سره یې ډېره مینه درلوده چې په همدې اساس دهٔ د خپلو خپلوانو د وینا په اساس د سعدي د ګلستان په ژباړه د رحمان بابا د وینا غوندې د افغانانو کشور د تل لپاره معطر کړ، پښتون تېر په هغه وخت کې د عبدالقارخان له ګلدستې په بشپړ ډول ګټه اخیسته او نن ورځ هم ګلدسته د افغانانو پر ځمکه په پوهنتونونو کې د ټولو درسي کتابونو په شان ګڼل ده، د پېښور پښتو اکاډمۍ د ګلدستې خطي نسخه د ړومبي ځل لپاره په (۱۹٦۱ ز) کې خپره کړه او دغه ګټور کتاب څو ځل چاپ شوی دی؛ ګلدسته ړومبی ځل د اروابښاد خیال بخاري په عالمانه او نقادانه سریزې چاپ شوې ده، ربښتیانی چې د اروابښاد خیال بخاري سریزه د سعدي ګلستان او د عبدالقادرخان خټک ګلدستې پورې اړوند ډېره بډایه زېرمه ده او د ړومبي چاپ وړاندوینه مولانا عبدالقادر د پښتو اکاډمۍ د هغه وخت رئیس لیکلې ده؛ البته په دریم چاپ کې د ښاغلي محمدنوازخان طایر د پښتو اکاډمۍ رئیس د (یو څو خبرې) تر سرلیک لاندې ښې ګټورې خبرې، د اروابښاد خیال بخاري سریزه او د اروابښاد مولینا عبدالقادر له وړاندوینې او پېژندګلوۍ سره یو ځای راغلې دي، یو ځل بیا یادونه کېږي چې ګلدسته په ړومبي ځل په (۱۹٦۱ ز) کې له خطي نسخې چاپ شوې ده، ورپسې د سعدي د ګلستان دغه خوږه ژباړه د چاپ په ګاڼه څو ځل پسولل شوې ده.
وړاندې مې ویلي وو چې عبدالقادرخان خټک د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې ړومبی کس دی چې د سعدي ګلستان یې په پښتو ژباړلی، نوموړی د پښتو یو غوره شاعر و او د پارسي شعر په ادبي رموزو ښه پوهېده چې په همدې اساس نوموړي بې له کومې ستونزې د ګلستان نثر د پښتو په ښکلي نثر او شعرونه یې د پښتو په خواږه نظم راړولي دي.
د ګلدستې کتاب د ښاغلي لطف الله له خوا خطاطي شوی او ۲۹۲ مخه دی، د ګلدستې ژبه تر یوې اندازې روانه او ساده ده؛ خو بیا هم د ګلدستې ژباړن په دې ژباړه کې له عربي ویینو او پارسي ګړنو ډېر کار اخیستی دی، نثر یې ګړنې (محاورې) ته ډېر نږدې او په خټکوالي لهجې دی؛ مګر د ژبې له اصولو د غونډلو ترتیب یې مرتب نه دی، نوموړي د سعدي ګلستان ژباړه په ځانګړې ژباړې کړې ده.
په پای کې د سعدي له ګلستانه د ګلدستې له ژباړې سره یو ځای یو حکایت ستاسې خدمت ته وړاندې کوم:
((یکی از ملوک خراسان محمود سبکتگین را بخواب دید، چنان دید که جمله وجود او ریخته بود و خاک شده؛ مگر چشمان او که همچنان در چشم خانه همی گردید و نظر می کرد؛ سایر حکماً از تأویل این فرو ماندند؛ مگر درویشی که بجای آورد و گفت هنوز نگرانست، که ملکش بادیگرانست.

بس نامور به زیر زمین دفن کرده اند
کز هستیش بروی زمین بر نشان نماند
و ان پیر لاشه را که سپردند زیر گل
زنده است نام بخورد کز و استخوان نماند
زنده است نام فرخ نوشیروان بخیر
گر چه بسی گذشت که نوشیروان نماند
خیری کن ای فلان و غنیمت شمار عمر
ز ان پیشتر که بانگ بر آید فلان نماند))

یوه بادشاه د خراسان د ملک په خوب کې سلطان محمود د سبکتګین زوی ولید، سل کاله پس د ده له مرګه چې درست وجود یې رژېدلی و، خاورې شوی و؛ مګر سترګې یې چې په کولکونو کې غړېدلې؛ نظر یې کاوه، واړه حکیمان، معبران یې له تعبیره عاجز شول؛ مګر یوه درویش ووې چې اوس یې سترګې وغړېدې چې ملک یې د نورو شه.

**بیت:**

تر اوسه ګوري په سترګو تورو
چې ملک یې ونیو شاهانو نورو

***

ډېر نامدار ځوانان یې لاندې کړه تر خاورو
چې په زمکه له دوی پاتو نشان نشته
خاورو هسې رنګ خوړلي مردګان دي
چې په قبر کې یې یو استخوان نشته
د ښو نوم یې لا تر اوسه په جهان شته
مدت وشه چې حاتم نوشیروان نشته

**(۲) د امیرمحمد انصاري د ګلستان پښتو ژباړه**

په دې کې هېڅ شک نشته چې د شیراز بلبل حضرت سعدي د پښتنو په منځ کې ډېر منلی دی، د دې لامل شاید دا وي چې هغه بې جوړې کتابونه لکه: ګلستان، بوستان او کریما لیکلي دي، په ځا نګړې توګه ګلستان او کریما خو پښتانه ځانته ډېر راکښلي دي.
د پښتو لیکوالو او شاعرانو په منځ کې له عبدالقادرخان خټک وروسته اروا ښاد امیرمحمد انصاري، د میرمحمد زوی دویم کس دی چې د سعدي ګلستان یې په پښتو ژباړلی دی، د امیرمحمد انصاري په باره کې اروابښاد پوهاند صدیق الله رښتین (د پښتو ادب تاریخ) کې دا ډول معلومات ثبت کړي دي: ((...دا سړی تقریباً د ۱۲۰۰ هـ ق، په حدودو د هند په کلکته کې اوسېده، پلار یې میرمحمد نومېده، ده د سعدي ګلستان په ۱۲۲۷ هـ ق، په دغه ځای کې په پښتو نثر ترجمه کړی دی، د دې ګلستان یوه نسخه چې ۱۲۹ پاڼې ده؛ د لندن په موزیم کې شته...)).
یعنې؛ نوموړی (امیرمحمد انصاري) تقریباً د ۱۲۰۰ هـ ق، په حدودو کې د کلکتې په ښار کې استوګن و، پلار یې میرمحمد نومېده، دهٔ د سعدي ګلستان په ۱۲۲۷ هـ ق، په همدغه ښار کې په پښتو ژباړلی دی، نسخه یې په انګلستان کې ده، ۱۲۹ مخه لري، د لندن په موزیم کې خوندي ده.
اروابښاد استاد رښتین په خپل یاد اثر کې یو څو منځوۍ غونډلې د سعدي د ګلستان چې امیرمحمد انصاري ژباړلي؛ دا ډول رااخیستي دي: ((...منت هغه لوی قادر څښتن تعالی لره چې طاعت یې سبب د قربت دی او د ده په شکر کې زیاتی د نعمت، هره یوه ساه چې په ښکته درومي او ړدودنی د حیات دی او هر کله چې په پورته راشي، خوشحالولو یې د ذات؛ یعنې د ځان ده؛ پس په هره یوه ساه کې دوه نعمتونه موجود دي او په هر نعمت یې شکر واجب...)).
استاد رښتین په پای کې دا ډول مطالب راوړي دي:
((...د دې سړي نور حالات ښه نه دي معلوم؛ مګر ویلای شو چې دغه ترجمه یې ښه او غوره ده او دی د پښتو په ترجمه کوونکو او نثر لیکونکو کې ښه درجه لري...)).
یعنې د نوموړي شخص(امیرمحمد انصاري) نور احوال په ښه شکل نه دي معلوم؛ مګر ویلای شو چې دغه ژباړه یې ښه ارزولې ده، دی د پښتو ژباړونکو او نثرانو په منځ کې ښه لوړ مقام لري.
ربښتیانی چې د امیرمحمد انصاري ژوند او آثار ښه معلوم نه دي، له دې وروسته کومو کسانو چې د نوموړي په اړه څه ویلي؛ سرچینه او تکیه یې ټوله (د پښتو په ادب تاریخ) ده.

**(د مقالې پاتې برخه به راتلونکې ګڼه کې خپره شي)**

## د حمزه بابا په اشعارو کې...

شاعر و، چې د تلمیح له لارې یې خپل افکار او نظریات بډایه کړي دي، د هغه اشعار به د تلمیحي مواردو له مخې تحلیل شي، ترڅو څرګنده شي چې هغه د کومو تاریخي، دیني، اسطوري، او کلتوري سرچینو څخه الهام اخیستی دی.
بله مهمه موخه دا ده چې د تلمیح ادبي او فکري اغېز ته کتنه وشي، دا به معلومه شي چې تلمیح څنګه د حمزه بابا د شاعرۍ د بیان قوت ته وده ورکړې، د شعر معنوي ژورتیا یې زیاته کړې، او د مخاطب د فکري پوهاوي کچه یې لوړه کړې ده.
دا څېړنه به دا ارزونه هم وکړي چې د حمزه بابا د تلمیح ټولنیز، اخلاقي او فکري اغېز څه ډول دی، دا به وڅېړل شي چې حمزه بابا څنګه د تلمیح په وسیله خپل ټولنیز پیغامونه وړاندې کړي او د خپلې زمانې د حالاتو انعکاس یې څنګه کړی دی.

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې له تشریحي- توضیحي مېتود څخه استفاده شوې ده.

**د مقالې متن**

د پښتو ژبې او ادب یو ستر نوم، شاعر، نثرنګار، متصوف، پښتون، فلسفي او د پښتو معاصر غزل بابا اروابښاد ابوالمراد امیرحمزه خان شینواری د کوزې پښتونخوا په ډېرینه صحرا کې هغه راټوکېدلی غاټول وو چې خوشبویي یې لره او بره پښتونخوا تسخیر کړه او کرار کرار یې سیمه ییز بیا نړیوال شهرت وموند.

یو شور و د شهرت چې وو راخور په پېښور
حمـــــزه مې په خاموشو ډدیرو کې لټوو

حمزه شینواری چې کورنی نوم یې امیرحمزه خان شینواري وو، په سرای (لنډي کوتل لواړګي) کې د ملک بازمیرخان کره په کال ۱۹۰۷ د ډسمبر په میاشت کې زېږېدلی دی. حمزه بابا په قوم سړبنی شینواری دی د شینوارو په درې څانګو فاطمي خېل، اشرف خېل، او بسي خېلو کې د اشرف خېلو سره تعلق لري، خوږه خېل یې د زېګون کلی دی، د خپل پیدایښت او کور کلي په اړه حمزه بابا فرمایي:

شک نشته هېڅ په دې کې مسلمان یمه
د لوړاګي باشنده یمه ښه ځوان یمـه زه
هر ګز به محو نکړم قامي امــــــتیاز
ژوند به مې په دې وي چې افغان یمه زه

د حمزه بابا د شاعرانه عظمت په باب پروفیسور محمدنواز طایر لیکي: حمزه بابا پښتو غزل د عام روایتي ډګر څخه د پښتونولۍ په ډګر داسې سم کړو چې حسن او رنګیني یې هم ورله قایم وساتل او پښتني اخلاق، اقتدار، اطوار او د پښتو روایات یې هم ورځای کړل. یقیناً د پښتو ادیبانو د نقد و نظر خاوندان ټول دا مني، چې حمزه غزل پښتون کړی دی او د پښتونولي ټول ښایستونه، ټولې خوبیانې او ټول صفات یې د غزل په جولۍ کې اچولي دي، ځکه پښتو غزل د مخه د نورې دنیا او نورو ژبو د غزل څخه منفرد او ممیز دی.
حمزه باباد خپلې پراخه مطالعې د ژوند د اوږدې تجربې او مشاهدې په برکت خپل ځانګړی او پوخ رنګ خپل کړو، په شلمه پېړۍ کې چې څومره غزل لیکل شوی دی یا په یوویشتمه پېړۍ کې څومره لیکل شوي دي، تر ډېره حده د حمزه په رنګ کې رنګ دي، حمزه بابا د خپل عظمت په هکله فرمایي:

د غنغ پورې میدان د سخن جوړ دی
د حـــمزه د تخیل ښکاره مړوند دی

یعنې د ۲۰۵۰م (د غنغ څخه د ابجدو په حساب دغه نېټه راوځي) پورې که نور څوک شاعري ونه کړي؛ نو حمزه یو داسې معیار او یو داسې مقدار ورکړی دی، چې د پښتو شمله به هسکه وي.(۳: ۴-۱مخ)

**تلمیح:**

تلمیح په لغت کې په مالګه کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه معنوي صنعت دی، چې شاعر په خپل کلام کې یوې مشهورې کیسې یا واقعې ته په لنډه توګه اشاره وکړي، نو که سړی په کیسې یا واقعې پوه نه وي د شعر معنا ورته ګرانه وي او برعکس د شعر تحلیل ورته اسانېږي.( ۸: ۱۱۲مخ)

هغه څوک دی چې به حـــــــــق نه وایي ځـــان ته
قصور وار په درسیت جهان کې یو منصور دی (۱: ٥٦٥مخ)

په دې بیت کې تلمیح منصور حلاج ته شوې ده، چې د تصوف په نړۍ کې یو ډېر مشهور او متنازع شخصیت و. د منصور ذکر دلته د حق ویلو، قربانۍ او د ټولنې له مخالفت سره د مقابلې یوه بېلګه ده، شاعر غواړي د منصور د داستان له لارې یو ژور پیغام وړاندې کړي.
منصور حلاج د اسلامي تصوف یو لوی عارف و، چې په نهمه پېړۍ کې یې ژوند کاوه. هغه د انا الحق (زه حق یم) عبارت له امله مشهور دی، چې د هغه د ژور معنوي حالت څرګندونه کوي. منصور د خپل ایمان او حقیقت په لار کې د ټولنې سخت مخالفت وزغمه. هغه په پای کې د خپلې عقیدې له امله اعدام شو، خو د تصوف او عرفان په تاریخ کې د وفادارۍ او سرښندنې سمبول وګرځېد.(۲: ۱۰۱مخ)
په دې بېت کې شاعر وایي چې یوازې هغه څوک به د خپل ځان په اړه د حق خبره ونه کړي چې د خپلو ګناهونو یا تېروتنو څخه سترګې پټې کړي. د دې خبرې په وسیله شاعر د انسان د ځان ارزونې او ریښتینولۍ اړتیا ته اشاره کوي. دلته شاعر منصور ته د قصور وار په توګه اشاره کړې، چې ټولې نړۍ هغه په ناحقه قصور وار وباله ځکه چې هغه د حق خبره وکړه. دا یوه استعاره ده چې کله یو څوک حق وایي، نو ټولنه د هغه مخالفت کوي، حتی که هغه ریښتینی وي.
دلته حمزه بابا د منصور کیسه د هغو کسانو لپاره د یو مثال په توګه وړاندې کوي چې د حق په لار کې قرباني ورکوي. د ټولنې مخالفت د حق ویونکو لپاره یوه عادي خبره ده، خو منصور د خپلو کړنو او قربانیو له لارې ثابته کړه چې د حق د ویل یو لوړ مقام دی، حتی که څوک د دې په بدل کې خپل ژوند له لاسه ورکړي.

دانه راته په خوله کـــې د مېــــــرې جهان باني
مهمان مې د خاطر دی سلیمان د تسلۍ(۱: ٥٥٥ مخ)

په پورته بیت کې، تلمیح د حضرت سلیمان علیه السلام او د هغه د مېږي سره د مشهورې کیسې یادونه ده. د تلمیح مفهوم په دې ډول دی چې شاعر په غیر مستقیم ډول یوې واقعې ته اشاره کوي، پرته له دې چې هغه تفصیل سره بیان کړي.
د حضرت سلیمان علیه السلام په اړه د قرآن کریم په النمل سورت کې یادونه شوې چې هغه ته د الله تعالی له خوا داسې ځانګړې وړتیاوې ورکړل شوې وه، چې د انسانانو، پېریانو او حتی د حیواناتو خبرې یې اورېدې او پرې پوهېده. د مېږي د کیسې له مخې، کله چې د حضرت سلیمان علیه السلام لښکر د مېږیو د سیمې له خوا تېرېده، یوه مېږي خپلو نورو مېږیو ته وویل چې خپلو ځالو ته داخل شئ، څو د سلیمان علیه السلام لښکر مو په ناپوهۍ سره ونه مروړي. (۵: ۲٦٥مخ)
بابا په دې بیت کې د مېږي د جهان باني د استعاري مفهوم په واسطه خپل عاجزي او کوچنیوالی څرګندوي او وایي چې مېلمه یې ډېر لوی دی (یعنې د سلیمان په څېر) او د تسلۍ لپاره یې ځانګړی دروند مقام لري.

د لېونو په کــوځه نه ورځمــــــــــــه
چرته به غړ کړي چې مجنون راغی (۱: ٥٧٥مخ)

بابا په دې بیت کې (لېونو کوڅه) او (مجنون) دواړه د تلمیح ښې بېلګې دي، چې په غیر مستقیم ډول د مجنون او لیلا د کیسې مشهوره افسانه یادوي. د تلمیح هدف دا دی چې د یوې تاریخي واقعې د یادولو له لارې ژوره معنا وړاندې کړي، چې دلته د لیلا او مجنون کیسه ده.
د لیلا او مجنون کیسه د عربو د مشهورو او تاریخي عاشقانه افسانو یوه برخه ده، چې په لومړي ځل د عربي ادب له لارې مشهوره شوه او وروسته د فارسي، اردو او پښتو ادب برخه وګرځېده.
قیس ابن الملوح (مجنون): قیس د عربو یو هوښیار ځوان و. هغه د لیلا په عشق کې لیونی شو، خلکو ورته د (مجنون) لقب ورکړ چې معنا یې لیونی دی.
د عربو په ټولنه کې د هغه وخت دودونه داسې وو چې که یو هلک د یوې نجلۍ په عشق کې ډېر ښکاره شي، نو د نجلۍ کورنۍ به یې له دې امله د هغه سره واده کولو ته اجازه نه ورکوله. د لیلا کورنۍ هم د قیس سره د هغې مینې مخالفت وکړ او لیلا یې بل چاته په زور واده کړه.
کله چې قیس ته دا خبر ورسېد هغه له خلکو څخه ځان ګوښه کړ، صحرا ته لاړ او د لیلا نوم به یې په لوړو غږونو یاداوه. خلکو به هغه د لېونو په کوڅه یا د لیونیانو په ځای کې لیدلو. د هغه د لیلا سره مینه دومره افراطي وه چې هغه یې خپل ځان ته بې پروا کړ. د کیسې په ډېرو نسخو کې دواړه عاشقان د خپل مینځني وصل څخه بې برخې پاتې کېږي. لیلا له دنیا ځي او مجنون د هغې په فراق کې خپل ژوند په صحرا کې پای ته رسوي. (٦: ۲۷مخ)
په دې بیت کې حمزه بابا د مجنون د کیسې له یادولو سره هڅه کوي چې خپله مینه له هغه افراطي حالت څخه لرې وساتي چې مجنون ورسره مخ و. شاعر د مینې او عقل تـــــر منځ د تعادل غوښتونکی دی، او غواړي چې له بې ځایه قضاوت څخه ځان وساتي.

اې حــــــــمزه چې زړه دې غیرو ته مایل شو
شوه معلومه چې کعبه کې بُت پرست یې(٥٥١ مخ)

په دې بیت کې حمزه بابا د کعبې او بُت پرستۍ کیسې ته اشاره کوي. د اسلام د تاریخ له مخې، مخکې له دې چې اسلام څرګند شي، کعبه د عربو لخوا د بېلابېلو بُتانو د عبادت ځای و، چې په هغې کې ۳٦۰ بتان ځای پر ځای شوي وو. کله چې رسول الله ﷺ اسلام خپور کړ، هغه بُتان له کعبې لرې کړل او کعبه د الله تعالی د عبادت پاک ځای وګرځول شوه.(۱:۱٥٥مخ)
حمزه بابا دلته د کعبې د بُت پرستۍ حالت ته اشاره کوي ترڅو په مجازي ډول دا څرګنده کړي چې که د زړه توجه د الله پر ځای نورو شیانو ته مایله شي، دا د خالصې مینې او عقیدې له لارې سرغړونه ده. د کعبې د بُت پرستۍ کیسه په دې بیت کې د یوې استعاري وسیلې په توګه کارول شوې ده ترڅو د زړه پر پاکوالي او د خالص ایمان پر اهمیت ټینګار وشي.

**(د مقالې پاتې برخه به راتلونکې ګڼه کې خپره شي)**

# زېری

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي، څېړنيزه او ادبي پښتو ورځنۍ جريده

د ۱۴۰۴ ل.کال، د وري مياشتې ۱- ۲مه گڼه | پرله پسې ۴۴۱- ۴۴۲ مه گڼه

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارگان

**د اړيکې شمېرې:** (۹۳+) (۰) ۷۸۰۸۳۱۹٦۰

(۹۳+)(۰)۲۰۲۲۰۱۲۷۹

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان ځلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې گڼې بيه:** پنځه افغانۍ


## څېړنوال دوکتور عبدالاحد منگل

# ابېڅې (الفبا) اکوبکو

يادښت: دغه منظومه ابېڅې په لنډ اته څپيز بحر کې د وړو ماشومانو لپاره چې په اسان ډول ابېڅې (الفبا) زده کړي جوړه شوې ده.

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتــــابچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

**(الف)** ولــــيکئ اول کې
د الله د نــــوم په سر کې
**(ب)** بابا په موره گــــران دی
په بازار کې يې دوکــــان دی
**(پ)** پراتــــې ادې پخې دي
خوندورې دي خــــورې دي
**(ت)** په توت کې تــــور مېږی دی
اخ چيچلی يــــې سری دی
**(ټ)** په ټــــال کې زنگېدلې
ابــــېڅې يې يادولې
**(ث)** ثــــواب کې ځلور تورې
ماشومان مو لکــــه ستورې

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتــــابچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

**(ج)** جــــواري بوډۍ را مات کړه
پــــخوي يې په ټمټکو
**(چ)** چنــــدرو پټې پټې ده
جــــلگۍ راغلې په تراپکو
**(ځ)** ځــــيرک، ځلا لوبېږي
پــــه ورو ورو ننځکو
**(څ)** څــــادر څوڼدې څوڼدې دی
دوبــــې تېر کی تر کوتکو
**(ح)** حــــلوا خوږه پسته ده
زه يې خــــورمه په څمڅکو
**(خ)** ختــــگر زموږ د کلي
اخېــــږ کړي په گلملکو

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتابــــچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

**(د)** درمــــل په درملتون کې
نــــاروغ پروت دی په روغتون کې
**(ډ)** ډاکټر واکــــسين راوړی
ملا جومات کــــې اعلان کړی
**(ذ)** ذکــــي هوښيار هلک دی
په ښوونځي کــــې را نه ورک دی

**(ر)** روباټ نــــوې لېځکه
په برښــــنا کوي ناڅکه
**(ړ)** ړنده زمــــوږ انی ده
پورته ناســــته په بلی ده
**(ز)** زمــــری ځي په ترپکو
خوله يې خــــلاصه په غړمبکو
**(ژ)** ژوبڼ کــــې ژوي ډېر دي
ښايسته تــــر يو بل تېر دي
**(ږ)** را ږمنــــځ زما ويښته کا
ږمنځه ســــل غاښه اوږده کا

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتــــابچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

**(س)** سپوږمۍ پــــه ستورو پټه
سوی راځي د غــــره له څټه
**(ش)** شپېــــلۍ سورۍ سورۍ ده
د شپونکي په ســــر خولۍ ده
**(ښ)** ښــــارو وره وړه ځي
د غرځي په ښــــکر سپره ځي
**(ص)** صــــابون په لاس لونۍ کې
د حــــمام په شنه جالۍ کې

**(ض)** ضابــــط لالا مې ورور دی
جار پــــه کلي کې يې کور دی

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتــــابچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

**(ط)** طوطي وهــــي وزرې
کــــړي وړې وړې سندرې
**(ظ)** پــــه ظرف کې يښې غوښه
د پيشو ده ډېــــره خوښه
**(ع)** عينــــکو کې ښيښې دي
د کــــتو لپاره ښې دي
(غ) غنــــم دانې دانې دي
د نيکــــه سترگې مو سرې دي
**(ف)** په فيــــل کې لوی خرتوم دی
ماشومانو تــــه معلوم دی
**(ق)** قرآن زمــــوږ کتاب دی
هريــــو توری په حساب دی
**(ک)** کــــالي زموږه ښکلي
گــــران درزي ماما گنډلي
**(گ)** گــــلان په غوړېدو دي
پتنــــگان په الوتو دي
**(ل)** لکــــۍ موږک سپېره کړه
په سوري کــــې يې ورسته کړه

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتــــابچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

**(م)** پــــه مور کې لوی حکمت دی
تــــر پښو لاندې يې جنت دی
**(ن)** نــــنځکه مې وړه ده
په زانگــــو کې مې ويده ده
**(ڼ)** په نــــي ټال ټالۍ زانگي
هلــــکان يې له سر دانگي
**(و)** وطــــن افغانستان دی
پــــه وړو لويانو گران دی
**(هـ)** هــــلک کتاب نيولی
د ښــــونځي په پلو تللی
**(ي)** په يــــوم کې لومړی توری
پــــه اسمان ځلېږي ستوری

اکــــوبکو ډومبلکو
کــــم کليو ځلبلکو
ابــــېڅې به موره زده کو
په لــــيکلو په يادکو
کتــــابچه قلم را واخلئ
پــــه لاسونو کې نازکو

---

## څېړنيار احسان الله حليمي

# قرآن کريم او د روژې مبارکه مياشت

## ”د علمي ـ څېړنيز کنفرانس راپور“

د ۱۴۴٦ هـ ق کال د رمضان المبارک مياشتې له ۲۳مې نېټې سره سم د۱۴۰۴کال د حمل ۳مه د يکشنبې په ورځ د افغانستان د علومو اکاډمي د اسلامي علومو معاونيت د تفسير او حديث مرکز په نوښت د قرآن عظيم الشان د نزول په مناسبت د »قرآن کريم او د روژې مبارکه مياشت« تر سرليک لاندې علمي- څېړنيز کنفرانس د افغانستان د علومو اکاډمي د علامه احمد علی کهزاد د سيمينارونو او کنفرانسونو په تالار کې چې د دريځ چارې يې ښاغلي څېړندوی سميع الله صاحبزاده سمبالولې ترسره شو.

دغه پرتمين کنفرانس د ښاغلي قاري مطيع الله ستاري له خوا د قرآن کريم د خو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شو. ورپسې د افغانستان د علومو اکاډمي عمومي رئيس محترم شيخ الحديث مولوي فريد الدين محمود د قرآن کريم د تلاوت فضيلت، د روژې په اهميت او ارزښت او په رمضان المبارک کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د معمول په اړه ارزښتناکې خبرې وکړې او زياته يې کړه: روژه د انسان له پاره يوه الهي روزنه ده چې په کې الله جل جلاله انسان ته د صبر، استقامت، زغم او ثبات درس ورکوي. رسول الله صلی الله عليه وسلم او ملگرو به يې د روژې مبارکې مياشتې له هرې لحظې ښه گټه اخيسته. د شپې لمونځ ( قيام الليل) او د قرآن کريم تلاوت يې په دې مياشت کې ځانگړې صفت و. دوی په تمامه معنی ځانونه له روژې سره تړلي گڼل او فقيرانو او مسکينانو ته به يې په کې زياته صدقه ورکوله. روژه د اسلام له بناوو څخه يو لويه اوستره بناء ده، چې انسان له صبر او زغم سره اشنا کوي. قرآن کريم په همدې مبارکه مياشت کې نازل شوی او په دې مياشت کې د قرآن کريم تلاوت کول ځانگړې اهميت لري. په دې مياشت کې يوه داسې شپه هم شته چې عبادت په کې کول د زر مياشتو له عبادت څخه غوره او بهتر دی، چې هغه د قدر شپه ده. له ټولو مې هيله ده چې د دې مياشتې له هرې لحظې څخه پوره استفاده وکړئ ترڅو مو د دنيا او آخرت نېکمرغي په نصيب شي.

ورپسې د طبيعي- تخنيکي علومو د برخې مرستيال شيخ الحديث مولوي اميرجان ثاقب په رمضان المبارک کې د قرآن کريم د نزول، د انسانانو په روزنه کې د قرآن کريم رول او د قدر شپې د اهميت او فضيلت په اړه وينا وکړه، او زياته يې کړه: الله جل جلاله قرآن کريم په دې مياشت کې را نازل کړی چې په راتگ او نزول سره يې څمکه روښانه او بشريت ته يې سپېڅلې اسلامي عقيده بيان کړې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم به په دې مياشت کې اعتکاف کاوه، او هم به يې خپلو ميرمنو او صحابه وو ته په کې د اعتکاف کولو توصيه کوله، تر دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هر کال د روژې په مياشت کې اعتکاف کاوه. لکه څنگه مو ووېل: رمضان د قرآن کريم د نزول مياشت ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم به په دې مبارکه مياشت کې له جبرائيل عليه السلام سره د قرآن کريم گردان او تکرار کاوه. صحابه کرامو او د دې امت اسلافو به هم په دې مبارکه مياشت کې د قرآن کريم ډېر زيات تلاوتونه کول.

د ويناوالو په لړ کې د اسلامي بانکوالۍ او معاصرو مسايلو مرکز رئيس مفتي عبدالحق حقاني د روژې او قرآن کريم ترمنځ اړيکې او په روژه کې د عبادت کولو په ارزښت هر اړخيزې خبرې وکړې، او زياته يې کړه: د نبوي حديثو د حکم سره سم په دې مبارکه مياشت کې هر نېک او د خير کار ترسره کول دومره ثواب لري لکه په نورو ورځو کې يې چې فرضي عبادت ترسره کړی وي. روژه د رزق او روزۍ د پراختيا سبب دی او دا د صبر مياشت ده چې ثواب يې جنت دی. دوی زياته کړه چې د نبوي احاديثو د حکم سره سم مسلمانان بايد تنها له خوراک څښاک کولو څخه روژه و نه نيسي بلکې بايد له غيبت، درواغو ويلو او نورو ناروا کړنو او خبرو څخه هم په کې ځانونه وساتي، له بل مسلمان ورور سره د ژوند په چارو کې مل او ملگري شي، او هغه گاونډيان يې چې فقيران او څه نه لري بايد مرسته او کومک ورسره وکړي.

د کنفرانس په دويمه برخه کې علمي- څېړنيزې مقالې چې د ياد کنفرانس اړوند ليکل شوي وې ولوستل شوې چې سرليکونه او ليکوالان يې په لاندې ډول دي:

۱ـ د قرآن کريم او د رمضان ترمنځ مناسبتونه / څېړندوی صالح محمد فريد

٢ـ پيام های قرآن کريم برای روزه دار/سرمحقق محمدکبير مشفق

۳ـ له رمضان سره د مخکنيو صالحينو تعامل / څېړندوی عزيز الرحمن رحماني

۴ـ نقش قرآن کريم در تربيت معنوی مسلمانان در رمضان / سرمحقق ويس الدين نوری

۵ـ پر کورني ژوند د روژې برکتونه / څېړنوال عبد الرحمن حامد

٦ـ د روحي او بدني ناروغيو په درملنه کې د روژې ونډه/ څېړنوال محمد نبي الميداني

۷ـ نقش قرآن کريم و روزه در تقويت صبر و استقامت در زندگی / معاون سرمحقق اصحاب الدين رحمانی

۸ـ د رمضان د مياشتې احکام د قرآن کريم له نظره / څېړندوی محمد ابراهيم حقاني

۹ـ رمضان مبارک فرصت برای تغيير / معاون سرمحقق محمد نذير محمدی

۱۰ـ په فرد او ټولنه د مبارکي روژې اغېزې /څېړنپوه عبد الرحمن عادل

۱۱ـ روژه او د قرآن کريم تلاوت / مفتي نظيف الله حنيف

۱۲ـ نقش روزه در مداوای امراض روحی وبدنی / محقق محمد کريم اديب

۱۳ـ رمضان مبارک بدلون او غوره فرصت / څېړندوی سميع الله صاحبزاده

۱۴ـ رمضان و دستگيری بينوايان / معاون محقق کمال نوری

۱۵ـ د قدر شپه او د هغې فضيلت د قرآن کريم له نظره / څېړنيار احسان الله حليمي

نوموړی کنفرانس د ښاغلي څېړنپوه سيد حبيب شاکر له خوا مثبت وارزول شو او د تفسير او حديث له مرکز څخه يې مننه وکړه چې په دې حساس وخت کې يې دومره مهم او ارزښتناک کنفرانس برابر کړی دی، او د راتلونکو کنفرانسونو له پاره يې ارزښناک وړانديزونه وړاندې کړل. په پای کې کنفرانس د طبيعي- تخنيکي علومو د برخې مرستيال شيخ الحديث مولوي اميرجان ثاقب په دعايې سره پای ته ورسېد.


ZERAI
Afghanistan Science Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

**Assistant:**
Assistant Prof. Pashtoon Pashtoon

**Compose and Design:**
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA) Shahr - e - Now Kabul, Afghanistan
**Contact:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com